**د خلافت د ړنګېدو د (۱۰۲) تلین په یاد کې د حزب التحریر د امیر لوی عالم عطاء بن خلیل ابو الرشته وینا**

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه وبعد،

په عام ډول ټول اسلامي امت او په ځانګړي ډول د راشده خلافت د بیا راګرځولو دعوتګرانو ته...

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

له نن څخه (۱۰۲) هجري کلونه وړاندې په همدې ورځ؛ د ۱۳۴۲ هـ کال د رجب په ۲۸مه چې د ۱۹۲۴ م د مارچ له ۳مې سره برابره ده، د هغه وخت د برېتانیا په مشرۍ استعمارګر کفار په دې وتوانېدل چې د عرب او ترک خائنانو په مرسته د خلافت دولت له منځه یوسي. مصطفی کمال د دغې ورځې په سهار په استانبول کې د خلافت په لغوه کولو، د خلیفه په محاصره کولو او د هغه په شړلو سره د بواح کفر مرتکب شو.

په دې توګه، کله چې د خلافت په له منځه تللو سره په اسلامي خاورو کې دغه دردناکه پېښه رامنځته شوه... همغه وخت پر امت واجب وه چې د دغه بواح کفر له مرتکب سره یې په توره جګړه کړې وای؛ لکه په متفق علیه حدیث کې چې عبادة ابن صامت رضي الله عنه روایت کړی چې وایي:

**« وَأَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْراً بَوَاحاً عِنْدَكُمْ مِنْ اللَّهِ فِيهِ بُرْهَانٌ»**

***ژباړه:*** *او دا چې له اولو الامر (حکامو) سره د حکم په چارو کې شخړه ونه کړو، مګر دا چې له هغوی څخه بواح کفر ولیدل شي، چې د الله له لوري پرې څرګند دلیل ولرو.*

مګر امت دغه مجرم او د هغه ملاتړو ته داسې ګوزار ور نه کړ چې هغه او د هغه ملاتړي یې مات کړي وای، بلکې د امت غبرګون او ځواب خورا کمزوری او په هغه کچه نه و چې دغه څه پرې لاسته راوړي.

وروسته له هغه چې د حق او عدالت دولت «خلافت» له منځه لاړ، له همغې ورځې د امت توره ورځ راپیل شوه او اوس یې د دولتونو شمېر څو پنځوسو ته رسېدلی دی. چارواکي یې هغه ظالمان دي چې پر خپلو خلکو ظلم کوي، ان د دغې میاشتې په نیمایي کې د سوریې او ترکیې زورورې زلزلې ونه شوای کولی، چې د مسلمانانو تفرقه له منځه یوسي او د یو واحد دولت تر چتر لاندې دوی ته وحدت ورکړي، بلکې امت لا هم تر زلزلو وړاندې او وروسته خپل ټوټه ټوټه حالت ته دوام ورکوي او هیڅ پند نه اخلي:

**﴿أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ﴾**

***ژباړه:*** *ایا دوی نه ویني چې دوی هر کال یو یا دوه ځله ازمویل کېږي، خو دوی بیا هم نه توبه کوي او نه پند اخلي.*

سره له دې بیا هم وروستیو زلزلو وښوده، چې اسلام لا تراوسه د عامو مسلمانانو په زړونو کې ځای لري. ومو لیدل چې مسلمانانو خپل وروڼه د نړېدلو ودانیو له خاورو را ایستل او د «الله اکبر» نارې یې وهلې، په ځانګړې توګه کله یې چې هغه نوی زېږېدلی ماشوم له خاورو را وایست، چې مور یې تر خاورو لاندې وفات شوې وه... یا هغه کس چې په خاورو کې پټ و او لاس یې ښکارېده چې د شهادت په ګوته یې د الله تسبیح بیانوله... یا هغه خلک چې هڅه یې کوله ترڅو هغه ښځه وژغوري، چې تر نړېدلې ودانۍ لاندې شوې وه، خو هغې له راوتلو مخکې د سر د پټولو لپاره د ټکري غوښتنه وکړه، ترڅو ویښتان یې معلوم نه شي... یا هغه کس چې د ړنګې شوې ودانې تر پاتېشونو لاندې و او کله چې را وایستل شو، نو لومړی یې د اوداسه لپاره اوبه غوښتلې، ترڅو لمونځ یې قضا نه شي... دغه راز هغه کس چې تر ویرانو لاندې یې د ژغورل کېدو هڅه کېدله، خو ژغورونکو ولیدل چې قرآن یې تلاوت کاوه او د سورة البقرې آیتونه یې لوستل... یا هغه پېغله چې ژغورونکو یې د را ایستلو هڅه کوله، خو د هغې په څېره کې له دې امله خپګان ښکارېده چې د دغې ورځې لمونځ ترې قضا شوی و... خو د دغو ټولو تر څنګ هغو مسلمانانو په لوړ آواز د تکبیر نارې وهلې... الله أاکبر... الله تعالی دې پر ټولو هغو مسلمانانو رحم وکړي چې په دغه زلزله کې وفات شول او هیله ده چې دوی به په آخرت کې د شهیدانو له ډلې څخه وي انشاء الله. او ټپیانو ته دې الله تعالی بشپړه شفا ورپه برخه کړي... او کوم مسلمانان چې له دغې زلزلې ژوندي وتلي، الله تعالی دې ورسره مرسته وکړي او الله تعالی دې غوره ژوند ور په برخه کړي چې د الله تعالی او د هغه د رسول په اطاعت کې یې تېر کړي.

دا مسلمانان دي او هغه د اسلامي خاورو حکام دي، چې تر منځ یې د دوو ختیځونو په اندازه توپیر دی. دغه واټن له هغې ورځې پیل شو کله چې (۱۰۲) کاله وړاندې د خلافت د له منځه تلو لویه غمیزه پېښه شوه! تر دې وروسته بیا استعمارګرو کفارو د خلافت له نه شتون څخه په استفادې مسلمانانو ته یو بل دردناک ګوزار ورکړ؛ هغه دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسراء او معراج په مبارکه خاوره کې یې د یهودانو دولت جوړ کړ او هلته یې هغوی ته د بقاء اسباب ورکړل. له دغو اسبابو څخه لومړی یې د هغو مزدورو حکامو په واسطه دوی ته د امنیتي ملاتړ برابرول دي، چې د دوی شاوخوا دي. دغو حکامو به د یهودو پر وړاندې په هره جګړه کې ماته خوړله، ان تر دې چې یهودي دولت ته یې د هغه له مقام او حالت پرته بل مقام ورکړ چې الله پرې موصوف کړي دي ﴿**وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ**﴾.. ژباړه: (او پر دوی باندې د خوارۍ او بېچارګۍ مهر ووهل شو). حکامو یوازې پر دې بسنه ونه کړه، بلکې په خپل ټول توان یې له سیمې څخه د یهودي بنسټ د لرې کولو پر ځای یې قضیه د خبرو اترو خوا ته بوتلله، چې ګوندې په دې سره به یهود په ۱۹۶۷ کال کې له اشغال کړو خاورو یو څه یې پرېږدي!

بیا یهودي دولت په فلسطین کې خورا وحشي جنایتونه ترسره کړل او لا یې هم ترسره کوي چې د 26/1/2023 د جنین ټولوژنه یې تازه بېلګه ده. د یهودي بنسټ پوځ په خورا لوی ځواک سره د جنین پر کمپ برید وکړ او د ټولوژنې په ترځ کې یې نهه تنه شهیدان کړل. پر قتلونو سربېره یې نور وحشي جنایتونه هم وکړل، پر ټپیانو یې دیوالونه چپه کړل او استوګنځایونه یې په بیلډوزرو ونړلول. تر دې وروسته یې په نابلس کې خپل تېري ته دوام ورکړ او د عقبة جبر پر کمپ یې برید وکړ، هلته یې هم مرګ ژوبله واړوله او ډېر کسان یې شهیدان او ټپیان کړل... دا هر څه د حکامو د سترګو پر وړاندې تېرېږي، پرته له دې چې دوی د مرستې لپاره کوم ګام پورته کړي، په دوی کې تر ټولو نامي یې هغه دی چې د مجرم او مظلوم تر منځ د منځګړیتوب اعلان کوي! ﴿**قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ**﴾ ژباړه: (الله دې دوی ووژني چې څه ډول له حق څخه انحراف کوي.) نو کله چې دوی له یهودو سره د اړیکو د عادي کولو د جرم لپاره بیړه کوي، نو تر دې اضافه به څه وکړي؟ وروسته له هغه چې د مصر حکامو د ذلت او خوارۍ ډکه لار رهبري کړه، نو سازمان او د اردن، اماراتو، بحرین، المغرب... حکامو هم د دوی پر پله پل کېښود... او دا دی سوډان هم په دغه جرم کې له دوی سره یو ځای کېږي، په 2/2/2023 نېټه د سوډان ولسمشر عبد الفتاح البرهان د سوډان په پلازمېنه خرطوم کې د یهودو د بهرنیو چارو وزیر ایلي کوهین ته ښه راغلاست وایي، ترڅو د اړیکو د عادي کولو پر مسله خبرې اترې ورسره وکړي!! خو دوی ټول د هغه حقارت او سپکوالي څخه بې پروا دي چې ورسره مخ کېدونکي دي:

﴿**سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا صَغَارٌ عِندَ اللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا كَانُوا يَمْكُرُونَ**﴾

*__ژباړه:__ هغه کسان چې جرم یې کړی، ډېر ژر به د خپلو مکرونو له امله د الله پر وړاندې له حقارت، ذلالت او سخت عذاب سره مخ شي.*

د حیرانتیا وړ خو دا ده چې یهودي بنسټ چې هر جنایت او ظلم ترسره کوي، په هماغه ورځ یا ترې یوه ورځ وړاندې یهودي مشران د عرب حکامو په غېږ او یا له هغوی سره په ملاقات کې وي، لکه د جنین تر جنایت مخکې چې نتنیاهو د اردن په شاهي ماڼۍ کې مېلمه و!.. او د جنایت د ترسره کېدو پر وخت یې له یهودو سره امنیتي همغږي کوله، ځکه د دوی له اعتراف سره سم دوی فکر کاوه چې له دغه جنایت وروسته به امنیتي همغږي متوقفه شي او همداسې هم وشول. تر ټولو ډېره جالبه او نا اشنا خو دا ده، کله چې د فلسطیني اتلانو له ډلې یو اتل له خپلې خاورې او خلکو څخه په دفاع کې راپورته شو او له دغې ټولوژنې وروسته یې د قدس په عملیاتو کې اووه یهودان ووژل، نو د اسلامي خاورو حکامو ډېر ژر په غندلو لاس پورې کړ! د ترکیې، اماراتو، اردن او مصر د بهرنیو چارو وزارتونو په خپلو اعلامیو کې د قدس دغه پېښه وغندله!!

یوازې فلسطین نه دی چې دغو حکامو پرې ایښی دی بلکې د مسلمانانو د پاکې خاورې نورې برخې یې هم پرېښودې او یا یې کفارو ته تسلیم کړلې؛ کشمیر مشرکو هندوانو له خپل دولت سره یو ځای کړ، خو د پاکستان

حکام چوپ دي... په میانمار (برما) کې روهینګیایي مسلمانان حلالېږي، خو د بنګله‌دیش حکام داسې دي لکه ویده چې وي او هیڅ نه ویني... شرقي ترکستان چې چین پکې نسل وژنې کوي، خو په اسلامي خاورو کې شته دولتونه پرې داسې چوپ دي لکه مړي او کله چې د دغو ټولوژنو په اړه څه وايي، نو هغه دا وي چې دا د چین کورنۍ مسله ده!

**﴿كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ إِنْ يَقُولُونَ إِلَّا كَذِباً﴾**

***ژباړه:*** *تر خولو یې لویه خبره راوځي، خو دوی یوازې دروغ وايي...*

استعمارګرو کفارو یوازې د امت پر دغه سپکوالي بسنه ونه کړه، بلکې د دوی عقیدې ته یې هم سپکاوی وکړ، د بالوډان په نامه یو افراطي شخص وروسته له هغه چې د سویډین دولت اجازه ورکړه، په 21/1/2023م نېټه یې په سټاکهلم کې د ترکیې د سفارت مخې ته د قرآن کریم نسخه وسوځوله، تر دې وروسته په لاهه او کوپنهاګن کې د جمعې په ورځ په 27/1/2023 د قران کریم نورې نسخې وسوځول شوې. خو تر دې پېښو وروسته الازهر په خپله خپره کړې اعلامیه کې دا کار په سختو ټکو وغانده او دیني مقدساتو ته د سپکاوي پر وړاندې د درېدو غوښتنه یې وکړه... مګر شک نشته چې د ازهر علماء په دې ښه پوهېږي چې د قرآن د سوځولو پر وړاندې غبرګون په لفظي غندنه نه کېږي، بلکې د الله د کتاب د نصرت او ملاتړ لپاره باید لښکرې راپورته شي، ځکه د مصحف سوځول د اسلامي امت او اسلامي عقیدې پر وړاندې د جګړې اعلان دی، نو ځواب یې باید داسې جګړه وي چې د شا لښکرې یې هم خورې ورې شي.

**﴿فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ مَنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُون﴾**

***ژباړه:*** *که له دوی سره د جګړې په ډګر کې مخ شوې، نو داسې برید پرې وکړه چې پر دوی پسې شاته خلک هم تیت او پرک شي، ښایي چې پند واخلي.*

**اې مسلمانانو:** د مسلمانانو پر وړاندې د تېرې ځواب په منظمو او پیل شو خبرو ـ چې هیڅ درد نه دوا کوي ـ نه ورکول کېږي، بلکې دغه تېري ته باید په توري سره ځواب ورکړل شي، یعنې چې دښمن ته داسې ګوزارونه ورکړل شي چې د شیطان وسوسې ترې هېرې شي. کله چې مسلمانانو خلافت درلود، هغه وخت همداسې وو، په هغه وختونو کې واقع شوې پېښې موږ ته همدا کیسه کوي او دا یوه ثابته خبره ده چې هیڅ  د بصیرت خاوند ترې انکار نه شي کولی.. بېلګې یې د مسلمانانو په تاریخ کې خورا ډېرې دي چې د ابن کثیر په (البداية و النهاية) د بلازري په (فتوح البلدان)، د ابن خلدو په تاریخ، د ذهبي په (تاريخ الاسلام) او نورو کتابونو کې نقل شوي دي، چې تاسو ته یې څو بېلګې راوړم:

«بیا ۸۷ هجري کال راورسېد... په دې کال کې قتیبة بن مسلم پر بیکند برید وکړ چې دا د بخارا یوه عماله (اداري واحد) ده، کله چې ورځ تر نیمې ورسېده، نو الله تعالی دوی ته نصرت ور په برخه کړ... نو د دوی هغه سړی چې د مسلمانانو پر وړاندې یې جګړې ته خلک هڅول او شیړا و (یوه سترګه یې پوچه وه) هغه اسیر کړل شو، هغه وویل: زه د خپل ځان د ازادۍ په بدل کې تاسو ته پنځه سوه زره چینایي جامې په فدیه کې درکوم چې هره یوه یې زر قیمت لري، نو قوماندانانو قتیبه ته اشاره وکړه چې فدیه یې قبوله کړي، خو قتیبه وویل: **نه، پر الله تعالی سوګند تا ته به هیڅکله دا فرصت درنه کړم چې یو ځل بیا مسلمان وځوروې، نو د هغه د وژلو امر یې وکړ او غاړه یې پرې شوه.**»

«بیا ۹۰ هجري کال راورسېد... په دې کال کې د سند حاکم داهر پر یوه کښتۍ برید وکړ چې مسلمانې ښځې پکې وې او هغوی یې اسیرانې کړې، نو خلیفه خپل والي ته خبر ولېږه چې له دغه ظالم څخه کسات واخلي، هغه لښکر چې محمد بن قاسم یې مشري کوله، **مسلمانې اسیرانې یې ازادې کړې او له دغه سرکښ حاکم څخه یې غچ واخیست او د سند خاورې یې فتحه کړلې.**»

«بیا ۲۲۳ هجري کال راورسېد، د روم پاچا د اسلامي خاورو پر لور وخوځېد او د زبطره پر سیمه یې برید وکړ، ځینې خلک یې ووژل او ځینې یې مریان کړل... یوې مسلمانې ښځې ناره کړه چې «وا معتصما» دا خبر د وخت خلیفه معتصم ته ورسېد، هغه د دغې ښځې نارې ته لبیک ووایه او جګړې ته روان شو چې پخپله یې د پوځ مشري کوله او د هغې مسلمانې ښځې غچ یې واخیست... **بیا یې وپوښتل چې د روم تر ټولو ستر ښار کوم یو دی؟ ورته وویل شول چې عموریه (انقرې ته نږدې) نو همغه ښار یې فتحه کړ.**»

«بیا ۵۸۲ هجري کال راورسېد... په دغه کال کې د کرک حاکم ارنات خیانت وکړ او د حاجیانو د هغه لښکر لاره یې ونیوله چې له مصر څخه حج ته روان وو، د کاروان ځینې کسان یې ووژل او ځینې یې اسیران کړل، نو سلطان صلاح الدین جګړې ته تیاری ونیوه او له نورو اسلامي خاورو یې عسکر وغوښتل، نذر یې کېښود چې که الله تعالی بری ورپه برخه کړي، نو دی به پخپله ارنات ووژني، نو الله تعالی د ۵۸۳ هجري د ربیع الآخر په نیمايي کې د حطین په جګړه کې هغه ته بریا ورپه برخه کړه **او په دې سره صلاح الدین ارنات ته د خیانت او لار شکولو جزا ورکړه او هغه یې په خپل لاس وواژه.**»

«بیا په ۱۳۰۷ هجري کې چې له ۱۸۹۰م سره برابر دی، د یوې کیسې (ډرامې) لیکوال چې په هغې کې یې په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې افتراء کړې وه او هڅه یې کوله چې خپله ډرامه د پاریس په یوه تیاترځای (نندارتون) کې ننداري ته وړاندې کړي. کله چې خلیفه عبد الحمید له دې خبر شو، نو په استانبول کې یې د فرانسې سفیر احضار کړ، له هغه سره یې په نظامي لباس کې ولیدل او تهدید یې کړ چې که چېرې دغه ډرامه ننداري ته وړاندې شي، نو عثماني دولت به له فرانسې سره د اړیکو پریکون اعلان کړي او د جګړې حالت به

ورسره غوره کړي او په تنده لهجه یې ورته وویل: **زه د مسلمانانو خلیفه یم... که د دغې ننداړې مخنیوی مو ونه کړ، نو دنیا به مو درباندې چپه کړم! فرانسې د هغه خبره ومنله او د ننداړې د وړاندې کېدو مخه یې ونیوله.**»

هغه وخت استعمارگر کفار پوهېدل چې د اسلام او مسلمانانو د هر ډول سپکاوي په بدل کې به یې ژبې او پښې پرې شي... خو نن ورځ پر قرآن کریم باندې تېری کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته سپکاوی کوي او د مسلمانانو پر خاورو تېری کوي، خو د تېري پر وړاندې یې هیڅ غبرگون نه ښودل کېږي! دا په دې خاطر چې مسلمانان امام نه لري، هغه راشد خلیفه چې امت له شریرو دښمنانو ساتي... په متفق علیه حدیث کې راځي:

**«إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ، يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ، وَيُتَّقَى بِهِ»**

***ژباړه:*** *امام ډال دی، چې تر شا یې جگړه کېږي او هغه ته پناه وروړل کېږي.*

په پای کې یو ځل بیا ستاسو پام دې ته را اړوم؛ اې د ځواک او قدرت څښتنانو... یوازې تاسو یاست چې کولی شئ د امت سینه له دښمنانو وساتئ، چې ستاسو د دین دښمنان دي. یوازې تاسو یاست چې کولی شئ هغه ذلت له منځه یوسئ چې مسلمانان ورسره په خپلو خاورو کې مخ دي... نو د خپل واجب د ترسره کولو لپاره پورته شئ، الله تعالی دې تاسو ته برکت درکړي، زموږ د نصرت لپاره راپورته شئ، د راشده خلافت د اقامې لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړئ، د نصرت دا طریقه نه یوازې دا چې د واقعیت غوښتنه ده، بلکې په لومړي گام کې یو ستر فرض دی. څوک چې توان هم لري، مگر د خلافت د اقامې او د بیعت وړ خلیفه د راتگ لپاره گام نه پورته کوي، نو د هغه گناه هم ستره ده او دا چې «د هغه مرگ داسې دی لکه د جاهلیت مرگ» دا خبره یې د گناه پر شدت او لویوالي دلالت کوي، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې فرمایي:

**«وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً»**

***ژباړه:*** *څوک چې په داسې حال کې مړ شي چې د بیعت کړی یې په غاړه کې نه وي، نو مرگ یې د جاهلیت مرگ دی.*

دویم دا چې مسلمانانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د میت تر تدفین وړاندې له خلیفه سره بیعت کولو ته لومړیتوب ورکړ، په داسې حال کې چې د هغه تدفین هم فرض و، دا کار یې د خلافت د اهمیت له امله وکړ. درېیم دا چې عمر رضي الله عنه د خپل وفات په ورځ شپږ تنو مبشر بالجنة اصحابو ته د خلیفه د تعین لپاره درې ورځې وخت وټاکه، چې تر دریو ورځو به نه زیاتېږي، او ویې ویل چې که په دغه موده کې دوی د خلیفه پر ټاکنه اتفاق ته ونه رسېږي، نو مخالف کس دې ووژني، دا کار د گڼ شمېر اصحابو په حضور کې وشو چې هیچا ورسره

مخالفت ونه کړ؛ نو په دې توګه دا د اصحابو اجماع ده. خو دا دی پر موږ باندې د «دریو ورځو» خورا ډېرې ټولګې تېرې شوې دي! نو په دې توګه د خلافت اقامه یو ستر امر دی.

**اې د الله لښکره:** موږ پوهېږو چې هیڅکله کومه ملائکه له اسمانه نه راځي چې زموږ لپاره خلافت قائم کړي، مګر که موږ د خلافت د اقامې لپاره هڅه وکړو، نو الله تعالی به زموږ د مرستې لپاره ملائکې راولېږي او دا د الله تعالی په کتاب کې د هغه ریښتنې ژمنه ده:

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾**

***ژباړه:** الله تعالی له تاسو څخه له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی او نېک عملونه کوي، وعده کوي چې خامخا به ورته په ځمکه کې خلافت ورکړي، لکه تر دوی وړاندې یې چې نورو ته خلافت ورکړی و.*

او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیث کې د عزت زېری دی، چې تر اوسنیو جبریه نظامونو وروسته به راځي، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې فرمایي:

«**...ثُمَّ تَكُونُ مُلْكاً جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ**» ثُمَّ سَكَتَ ﷺ. أخرجه أحمد..

***ژباړه:** ... بیا به ملک جبریه (دیکتاتور نظامونه) وي، دا به تر هغه وي چې د الله خوښه وي او بیا چې کله د الله خوښه شي چې پورته یې کړي، نو هغه به پورته کړي، بیا به د نبوت په منهج خلافت راشي. بیا چوپ شو.*

دغه راز موږ پوهېږو چې د اسلام دښمنان د خلافت بیا راتګ ناشونی بولي او د خپلو پخوانیو ډلو وینا تکراروي چې د استهزاء په ډول به یې ویل: ﴿**غَرَّ هَؤُلَاءِ دِينُهُمْ**﴾ **ژباړه:** (دوی (مسلمانان) خپل دین تېر ایستلي دي)، مګر لکه څنګه چې پخوا دغه وینا بېرته پر خپلو ویونکو راوګرځېده او الله تعالی خپل دین ته عزت او مسلمانانو ته نصرت ورکړ، همداسې نن هم د دوی وینا پر دوی راګرځېدونکې ده، عزیز او حکیم الله تعالی تل له خپلو هغو مخلصو بندګانو سره دی چې خپله هڅه کوي، پرته له دې چې زړونه او اندامونه یې د الله له دې قول څخه بېل شي:

**﴿إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْراً﴾**

***ژباړه:** الله تعالی د خپلې چارې بشپړوونکی دی، الله تعالی د هر شي لپاره قدر او اندازه ټاکلې ده.*

او دوی د هرې ورځې په تېرېدو سره د الله تعالی دغه «قدر» ته نږدې کېږي:

**﴿وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَنْ يَكُونَ قَرِيباً﴾**

***ژباړه:*** *او دوی وايي چې هغه به کله وي؟ ورته ووايه ښايي چې نږدې (ژر) وي...*

انشاء الله.

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته

**۲۸مه د رجب کال** 1444هـ

الموافق 19/2/2023م

**ستاسو ورور عطاء بن خليل أبو الرشتة**

**د حزب التحرير امير**